# لرغونی اوستا ژبه او ننی پښه يي

لیک : فضل الرحمن صادقی

**اوستا ژبه :** (AVESTA ZEND **اوپشه يي** !

اوستا_داژبه په باختر کې له زړې اصلي آريايي ژبی څخه د ویدی ژبی سره یوځای او غبرګولی وزیږده، نوم يې باختري ژبه هم بولی اوستايی له دې جهته بولی چې داوستا دکتاب پخوانی او خورا زوړ ټوک (ګاتها) په دغه ژبه لیکل شوی دي، دغه ژبه زند هم بلله کيږی .

(ادپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک ص ۱۱۷، پوهاندعلامه حبيبی۱۳۲۵ش کابل)

بیا پدې ژبه کی څنګه چې په ماخذکې یادشوه یو لوی ضخیم کتاب چی (اوستا) په نامه پیژندل کيږی چې څوزره کال قدامت او تاریخی کتاب دې چی خصوصا زمونږ هیواد دکلیو، ښارنو، غرونو، دریابونو او نور باختری آریا ئیانو په اړه ډیر یادونې کړيدې چی مونږ يې هم له هغو اقتباساتوڅخه په ګټی آخستنی سره چې زمونږ هیوادنی تاریخ پوهانو يې نقل کړي دي له هغو جملو څخه دځوکلمو او نومونو په لاندې ډول لغوي مفاهیموسره یادونه کوو او ګورو چی آیا دننی پشه يي ادب سره څومره ورته والی او نږدیکت لري اونه چې تاریخی تحلیل او یا څیړنه...

**اوستا کلمه :**

اوستا ترهرڅه دمخه به پخپله د اوستا نوم تر تحليل لاندې راولو، چې دا کلمه ډیره زړه ده او داريايي باختر له پخوانو آریاو څخه ده ددي کلمی په معنا او لغوي تحليل کی پوهان ډلی دلی دي . هرچا يوه توجيه ورته کړيده او اشکال يې هم مختلف رانقل شويدي، او ستا، ايستا، استا، وستا، افستا، اپستا دپهلوي شکل يې اويستاک دي چې (ډارمستتر) اپستاک ضبط کړي دی،چې داکلمه په ساسانی دوره کې عموما مستعمله وه،مګر دا نده معلومه چې اصلی معنائی څه ده. ښايي چې پهلوي اوستاک لکه د سنسکريت ويدا غوندی د پوهنی دانش، او علم فهم معنا وي یا ښايي چی معنايي اصل متن وي يا قانون.

(ادپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک ص ۱۲۴،۱۲، پوهاندعلامه حبيبی۱۳۲۵ش کابل)

بیا څنی نور پوهان دا عقیده لري چې اوستا دمجهول او نامفهوم معنا لري، او دوی ټوټی کلمه ده، لومړي ټوټه (آ) یعنی (نه) دوهمه ټوټه (ویستا) ده چې مرکباً نامفهوم او مجهول، او نا دانسته ورته وائی، داځکه چی کله سا سانی دوره کې دا وستا کتاب دوهمه پلا ټولونه شروع شوه نويې خطی ټوټی هسي وي، چې څوک نه په پوهیدل له دغه لا مله يې نوم ( مجهول او نامفهوم وبالهه .

(ادپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک ،ص ۱۲۴، پوهاندعلامه حبيبی۱۳۲۵ش کابل)

**اَوستا:** څنګه چې دانوم په بره ماخذکې بی مفهومه بلل شوی چې ترننه يې څوک په معنااومفهوم باندی سرخلاص نه شو،اوس ګورو چې نومورې نوم دننی پشه يي (اریک) ژبې سره ورته والی لري او که نه ،ولی چې دی کلمی ته ورته کلمی په پشه يي کې لروالبته معنااومفهومونوکی به ضرور توپیروي لکه: (آوستا، اوئیستا، اَوِستا، آبستا،

اَبستا ، اَپستا ،استا) چې دا ټول کلمی دپشه یي ژبې مستعمل کلمی دی . چې دهریوکلمه په لاندې ډول لغوی معنی سره لیکم ترڅو لوستونکوته جوته شی . اوبله داچې پدې ربط کی نوری کلمی هم شته چې په پشه یي ژبې گرامری جوړښت له پلوه (س) حرف اضافی نسبت دپاره او په آخرکی (ا) اشاری ضمیر اوهم نسبتی دپاره راځی.

لکه : دو استا : یعنی په دواړو لاسو. لهمستا : یعنی دهغه کار. لا یستا : یعنی دهغه ورو . سَیستا : یعنی دهغه خور. لامستا : یعنی دهغه کلی . تاتستا : یعنی دهغه پلار. اغتستا : یعنی دهغه خبری یې. گوراولستا : یعنی دهغه واده. او همداسې نور. اوس راځو اصلی کلمومعنی اومفهوم ته کوم چی په بره ماخذکی یادونه شوی ده.

اَوستا : یعنی ددی لغوی معنی د ډوډی یې، یا دعوت یې .

اَوِستا : یعنی ددې لغوي معنی اوړه یې یا داوړه .

اُویستا : یعنی ددی لغوی معنی لور یې یا دلور.

آبستا : یعنی ددی لغوی معنی حیا یې، شرم یې، ناموس یې ، عزت یې .

اَبستا : یعنی ددی لغوی معنی نا هاوراه ، ښکته بره .

اَپستا : یعنی ددی لغوی معنی لفظونه یې، خبری یې، وینایې، نصیحت یې یاد الفاظواو خبرو مجموعه . زما به آند چې ددی کتاب نوم اصلی همدغه (آپستا) وي.داځکه چی دا دپشه یي ژبې (اپیک) گڼېدل، لفظیدل، خبری کول مصدر څخه فعل دی چی دنمونو یادونه وړاندې وشو ،اوپدي اړه می د ویدی مقاله د(اپنشد) کلمه کی توضیح کړی دی دلته هم لنډه توگه یادونه کوم .

**اَپ :** دادپشه یي ژبې یوعام لفظ مستعل دې چې فصاحت او بلاغت ته ویلی کیږی چې لغوي معنی یې غږ، ویل خبری او آواز سره دې.

**س :** دا د پشه یي ژبې نسبتی اشاری دپاره کاروړل کیږی لکه: اتیس (دهغه) اگتس ( دخبری) میس (ددغه)وغیره

**تا:** داهم دپشه یي ژبې نسبتی لاحقه ده چی د ډیروکلمو په آخرکی استعمال لري . مولستا ،اولوتا ، ملن اوتا ، گوس اوتا ، ورگ اوتا وغیره .

**اَپستا:** یعنی ددی کلمی پوره لغوی معنی لفظونه یې،خبری یې ، وینایې، نصیحت یې یاد الفاظواو خبرو مجموعه یاد الهامی ویناو کتاب .

مثالونه :

١\ کیس اَپستا گهل مَه وایا. یعنی دچا خبره مه غورځوه یا مه ردوه .

١\٢ وري تیس اَبستا ساتا. یعنی نور دهغه شرم اوحیائې وساته .

١\٣ تېناهراَپستې اریکم . یعنی ستاسې هره وینا دې آورم .

متل : ملاس ککیستا کن مه دیا خو اَپستا کن دیا . یعنی د ملا کول مه منه خووینایې ومنه.

شعر:  وري اَپ نه کاکم تېنانتی ، شام او دام اړه ګرېیکے
\+ اَپ اَپی تاریي تے جوپېتا ، نخستون اَپستا ګلوېیکے (...........)

یعنی یو محبوبه خپل محبوب ته ګله کوي وایی چی ما یو خبره کړی وه خوجواب دې رانکړ ، نوری خبري درسره نکړم ولی چی ته یي دیارخبره غورځوي.

**زراتشترا:**

زرتشترا تراوستا وروسته دوهم مهم نوم اوددی کتاب د راوړنکی نو زراتشترا یا زردشت دې، چې داسړي د بخدی آرئیانو یو نوم وړي دینی مبلغ او موسس دی چې دغه نوم په مختلفو شکلونو سره راغلی لکه .زراتشترا ، زراتشت، زرادشت، زردشت، زرتشت، زرتهشت اومګرپه ګاتها کې زرتشترا راغلی دی، چې معنی یې تاریخ پوهانوبیلابیل کړی دي لکه: دستوری زوي، دلاوراوښ خاوند ، طلا داسې بریښېدونکی،دژیراوښ خاوند ، زاړه اوښ خاونداو زر ګر په معنا سره جوړي :

(دپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک ص،۱۲۷-۱۲۸ ، هاندعلامه حبیبی۱۳۲۵ش کابل)

لکه چې ددې نوم دمعنا اومفهوم کې مختلفی نظرونه لیدل کیږی بیلابیلی مفهوم وړاندی شوی دي ،که دپښه یي ژبې ورته والی مفاهیمو ته نظر واچوو بده به نه ي . دا دپښه یي ژبې مفهوم ته ورته کلمه او نوم دی چی له دوو کلمو ( زر+ دشت یا زر+ تشت) څخه جوړده، چې عامه توګه (زردشتی او زرتشتی ) ویلی کیږي . چې هریو لفظ په اړه په لاندې ډول وضاحت او توضیح رواړل غواړم ،ترکومی چی پښه یي ادب سره ورته وي.

**زر :** چې دا په عامه توګه طلا ،سره،یا قیمتی څیزته ویلی شی او دایو یوه لرغونی لاحقه ده چې په ډیرو اریایې ژبو کی مستعمل دی خصوصا په داردی ژبوکې لکه: سون زر، شون زر، سونیک زر، شونیک زر، شلیک زر، سلیک زر اوهمداسې دپښتو سره زر وغیره . چې زماپه آند اصل کې د زراتو مجموعه ده. راټولول کیږی

**تشت :** داهم دپښه یي ژبې(ښشت) لفظ ته ورته کلمه ده چې عامه توګه(خانک)ته ویلی کیږی کیدائ شی چی ددی اصل (ښشت)او نسبت اوجمع یې (ښشتی) دی لکه: شیرښشتی،شوروه ښشتی،اون ښشتی،منوه ښشتی، انګر ښشتی.

**زرښشتی :** یعنی ددی کلمه لغوی معنی اومفهوم د سره زروخانک، طلائی جام، قیمتی پیاله سره جوړیږي.

مثالونه :

\۱ ګنیچ خلک زرښشتی یه اَو ابګاینچ . یعنی لوی خلکو به په سره زروخانک کې ډوډۍ خواړه.

\۲ شِره انګرښشتی جېتا ګیګ . یعنی په سریې اورخانک ایښې وه چې عرض ته لاړ.

متل: زرښشتی کَه کِه دبیم آګی ، شِله ښشتیکهه دبیام. یعنی چې سره زروخانک کې دې راکوله نوردختو خانک کې راکوه.

شعر :

## سپیتمان :

سپتمه ، سپیتمان ـ دزردشت کورنی- چې سپین دپښتو ټکې دې او تمان هغه دې چې (تومنه) ترې آخستې شوې یعني سپین نسل او سپین نژاد . (د پښتو ادبیاتو تاریخ ص ۱۰۳ پیښورچاپ )

داهم د دننی پشه یي ژبې لرغونی (اریک) زمانی سره تعلق لري چې تر او سه په پشه یي ژبه کې ژوندې او مشهور اصطلاح او کلمه دی چې (سپتیک) ستائنیدل، ستاینه کول ، لوی کول او لوی بیانول یا غره کیدل،ویاړل مصدر څخه جمع حاضر فعل دی چې دپښتو ( راځی چې دځان صفت وکړو ، غره شو ، فخر وکړو یا وویاړو یا ستاینه او حمد ) په معنی سره هم راځی .چې دغه یو معرب جمله ده چې (سپیت) دستاینه په معنی او ترمینځ (ي) نسبت او ( مان ) روستاړی دی چی وکړو په معنی سره ده یعنی (سپیتمان) او ددی مصدر څخه نورفعلونه یا دي ته ورته نور کلمی او ټکی. لکه : سپتیک، سپتېغا ، سپیتوي ، سپتېني ، سپیتېمو ، سپیتني، سپیتېکالا ، سپیتېکالي، سپیتیا ، سپیتوا ، سپیتمان، سپتېواس، سپیتېهن، چی هره کلمه کې د (ستائنی ) یادونه شوی او همدا سې نور.

مثالونه او جملی :

۱\ ایت کِه وري سپیتمان . یعنی راځی چې ستاینه وکړو .

۱۲ بکار لهمیدے سپیتمان . یعنی په ښوکارونو وویاړو.

۱۳ وري تانوک دیشستن شره سپیتمان .یعنی نوربايد خپل هیواد باندی فخر وکړو .

۱۴ خړي کِه سپېتېمان : یعنی زی، چی ستاینه یې وکړو.

متل : ناکر یې کِه سپتېمان، بکار یې به کوئیک کمان ! یعنی دبد سړي چې ووستايو ، نود ښه سړی به څه وکړو

شعر : بی خبر نیوا آکم وېکم تانوک استیدي

+ توسیس سپېتی کتا گریاکم شوقُ مستیدي (بېٔ مامد ) پخوانی شاعر

یعنی : زه خپله له حاله خبرنه ومه، ماډیر شوق او له مستی نه ستاپه ستاینه کې ورک ومه .

شعر : هرچو جا سپېتو بغایک ،نامو آیک دړؤ درا

+ کابل او ننگرگار سپېتؤ پشت او چکنسرا . (بی، مامد)پخوانی شاعر

یعنی : شاعر دخپل مشر ورور په په ستاینه کې وای چی ،نور په ستاپشان څوک پیدا نه شی ولی ستاسې یادونه او ستاینه او صفت خپل سیمه خو لا پریږده چی کابل، ننگرهار او کونړ کی هم ستامرگ پسی خفه دي او ستاینه کي غمژن دي .

شعر : اه کیولا سپېیتی نه کیاکم

+ تېنا هرچو جا سپیتی شی سپیتی . ( پرهیز قلعتکی)

یعنی : شاعر وایی: یو ازی زه ستا ستاینه اوصفت نه کوم ،بلکی ترلری لری پوری ستا دحسن ستاینه اوصفت کیږي.

**گاتها:**

گاتها چې داوستا خورا مهمه بره ده، په سنسکریت یې گیتا بولی یعنی سندري او سرودنه او داکاوه نسککه لري. چې پدي کتاب کې ۲۳۸ قطعې او ۸۹۲ شعره او **۵۵۲۰** کلمی دي

(دپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک ص۱۱۹ ، پوهاند علامه حبیبی ۱۳۲۵ش کابل)

داهم دپشه یي ژبې ته ورته کلمه اونوم دی چی دپشه یي ادب کې (گې اوگیتا) بلل کیږی چې پدې اړه مې دویدې مقاله (گیتا) په کلمه کې پوره توضیح او وضاحت کړې دی هغه دې وکتل شی، ولی شکل اومعنا یې یو دی ځنگه چې په بره ماخذ کې یادونه شوی دي او یو بله ورته کلمه (گاتها) هم لروچی لاسته راوړنی، حاصلولو، کامیا بی، اوگټه کولو ته ویلی شی ، او یوه بله لفظ ته هم ورته ده چې هغه (گاتهـ، گات) گذار، وار، نمبر، وهل ته ویلی کیږی چی دپشه یي ژبه کې په عامه توگه مستعمل دي .

یادونه : پاتی لري .......